# ما سره پدې بیعت وکړئ چې: الله سره به هېڅ شی نه شریکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ

له عبادة بن الصامت رضی الله عنه څخه روایت دی - نوموړی د بدر په غزا کي یې له ګډون کوونکو او د عقبې په شپه یو له ولسواکانو څخه و، هغه روایت کوي چې رسول الله ﷺ په داسې حال کې وفرمایل چې شاوخوا یې د صحابه کرامو یوه ډله ناسته وه: «ما سره پدې بیعت وکړئ چې: الله سره به هېڅ شی نه شریکوئ، غلا به نه کوئ، زنا به نه کوئ، خپل اولادونه به نه وژنئ، پر چا به د خپلو لاسونو او خپلو پښو پر وړاندې بهتان دروغ او تهمت نه لګوئ، او په معروف (ښه کار) کې به نافرماني نه کوئ، څوک چې دا شرطونه پوره کړي، نو اجر یې په الله دی، څوک چې له دې څخه کومه ګناه وکړي او په دنیا کې پرې سزا ورکړل شي، نو دا سزا د هغه لپاره کفاره ده، او څوک چې دا ګناه وکړي، خو الله یې پرده وکړي، نو دا د الله په اختیار کې ده: که وغواړي، بخښنه به ورته وکړي، او که وغواړي، سزا به ورکړي» نو موږ له رسول الله ﷺ سره پر دې شرطونو بیعت وکړ.

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

عبادة بن الصامت رضي الله عنه، چې د بدر سترې غزا ګډونوال او د خپل قوم مشر و، هغه قوم چې د منی په سیمه کې د عقبه شپې په ترځ کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د ملاتړ بیعت ته ورغلی وو - هغه مهال چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لا هم په مکه کې و، مدینې ته له هجرت نه مخکې - روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلو اصحابو ترمنځ ناست و، نو له هغوی یې وغوښتل چې پر څینو چارو ورسره بیعت (ژمنه) وکړي. لومړی: دوی به د الله تعالی په عبادت کې هېڅ شی نه شریکوي، که څه هم لږ وي. دویم: غلا به نه کوي. دریم : چې بد کاري (زنا) به نه کوي. څلورم : دا چې خپل اولادونه به نه وژني— نارینه اولادونه د فقر له وېرې، او ښځینه اولادونه د شرم یا عار له وېرې نه وژني. پنځم : دا چې دروغ به نه جوړوي—یعني داسې دروغ به نه جوړوي چې د خپلو لاسونو او پښو ترمنځ یې اختراع کړي، ځکه چې اکثر اعمال د لاسونو او پښو له لارې ترسره کېږي، که څه هم نور غړي پکې هم برخه لري. شپږم : دا چې په معروف (ښه کار) کې به د رسول الله ﷺ نافرماني نه کوي. څوک چې له دوی څخه پر عهد ثابت پاتې شي او دا شرطونه عملي کړي، د هغه اجر د الله پر غاړه دی، او څوک چې له یادو ګناهونو څخه (پر شرک سربېره) کومه یوه بله ګناه وکړي، او په دنیا کې پرې حد جاري شي، نو دا حد د هغه لپاره کفاره ده، او ګناه یې پرې پاکه شوه، او څوک چې له دې ګناهونو څخه کومه یوه وکړي، خو الله یې پرده وکړي، نو د هغه کار د الله په اختیار کې دی: که وغواړي، بخښنه به ورته وکړي، او که وغواړي، سزا به ورکړي، نو ټولو حاضرینو له رسول الله ﷺ سره پر همدې شرطونو بیعت وکړ.



النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee